# د مطالبو فهرست

د پوهنتون رئیس پیغام............................................................. 1
مفهومونه.................................................................................. 2
د ستراتیژیک پلان جوړښت.......................................................... 4
سریزه..................................................................................... 5
لیدلوري................................................................................... 6
ماموریت / مرام.......................................................................... 9
ارزښتونه.................................................................................. 9
ستراتیژیکي موخې او پروګرامونه.................................................. 10
د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکې موخې...................................... 10
د پوهنتون د چاپیریال ارزونه....................................................... 20
د پوهنتون د داخلي چاپیریال........................................................ 20
د داخلي لاملونو د ارزونې ماتریکس................................................ 22
د پوهنتون د بهرني چاپیریال........................................................ 24
د بهرنیو لاملونو د ارزونې........................................................... 26
د چاپیریالی لاملونو( داخلي او بهرنی)............................................. 28
د داخلي او بهرنی تحلیل طریقه..................................................... 29
د SWOT تحلیل......................................................................... 31
د ستراتیژیو اولویت بندی (د ستراتیژیو لومړیتوب) د (QSPM) پر بنسټ......... 41
د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل..................................................... 55
لنډمهاله موخو........................................................................... 56
د لغمان پوهنتون کاري پلان.......................................................... 66
مالي پلان یا بودیجه جوړونه........................................................ 178
د سراتیژیو اجراء پلي................................................................. 200
څارنه او ارزونه......................................................................... 201
ضمیمې................................................................................... 212

## بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د رئیس پیغام

الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقین وصلاة والسلام علي سیدالمرسلین محمد وعلی اله واصحابه اجمعین.

ستراتیژیک پلان د یوې ادارې موخې، کړنې، سرچینې او وړتیاوې ټاکي او د ادارې د راتلونکو پراختیایي چارو له پاره ترې د اساسي کړنلارې په توګه ګټه اخېستل کېږي. د یاد پلان شتون د یوې ادارې له پاره په تور تم کې د روښنایۍ په څېر دی چې د ادارې د ټولو لویو او کوچنیو پلانونو لپاره د سرچینې په توګه کار ول کېږي، د دې ترڅنګ د یوې ادارې ستراتیژیک پلان څخه د یادې ادارې د چارو د ارزونې د وسیلې په توګه ګټه اخېستل کېږي چې پر مټ یې چارو ته د ادراې ژمنتیا په ښه ډول څرګندیږي.

پر همدې بنسټ پورته یادو موخو ته د رسیدو له پاره لغمان پوهنتون رهبري د پلان کمېټې ته دنده وسپارله چې د یاد پوهنتون لپاره پینځه کلن (1403-1407 هـ ش) ستراتیژیک پلان چمتو او د ورستیو کتنو له پاره یې د پوهنتون د رهبرۍ سره شریک کړي، له نیکه مرغه کمېټې خپله دنده په بشپړ بریالیتوب سره ترسره او یاد ستراتیژیک پلان یې د نوي عصر او د پوهنتون غوښتنو ته په کتو جوړ کړ، ډاډه یم چې د یاد ستراتیژیک پلان په پلي کولو سره به هغه موخې چې د پوهنتون د پرمختګ او علمي وړتیاوو لوړولو په هدف ټاکل شوي دي ترلاسه کېږي، چې په ټوله کې به د ګران هېواد په ټولنیز، علمي او اقتصادي پرمختګ کې رغنده او مثبت رول ولوبوي.

د پوهنتون رهبري او لوړو زده کړو وزارت د جوړ شوي ستراتیژیک پلان پلي کولو ته ژمن دي او په پوره زیار سره به هڅه کوي چې د یاد پلان پلي کولو له پاره اسانتیاوې برابرې کړي، دا چې د یاد پلان په جوړونه کې د هیواد ټولنیز، علمي او اقتصادي حالت د پلان د پلي کېدو د ارزونې پخ خاطر ځانګړي میکانیزم او د هیواد دننه او بهرني فرصتونه په نظر کې نیول شوي نو د پلي کولو له پاره یې د ټولو د خیلو اړخونو همغږي او مرستې اړینې دي، په همدې بنسټ د لغمان پوهنتون رهبري ټولو دخیلو اړخونو ته وړاندیز کوي، چې د نوموړي ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې خپلې همیشنۍ مرستې او نیک نظرونه د پوهنتون ادارې څخه ونه سپموي.

**درنښت**

**الحاج حافظ پوهنمل محب الله هدایت**

**د پوهنتون رئیس**

## مفهومونه

**مفاهیم:** د ستراتیژیک پلان د برنامې تطبیق چې د پوهنتون د چارو د سمون او پرمختک لپاره ډیر اړین دی.

په لاندې کرښو کې به د برنامې هره برخه تعریف او وڅېړل شي:

**پروګرام:** پروګرام د موخو تر لاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده، چې د اړینو سرچینو، مهالویش، دندې او نورو فعالیتونو ځانګړې کوي، د پروګرام موخه، وخت او زمان، د چا له خوا کومې مرجع ته او په څومره وخت کې باید عملي بڼه او خپل اغیز وښایي.

**ستراتیژي:** یوه ځانګړې طرحه ده، چې د پوهنتون د موخو د لاسته راوړلو له پاره د یو ځانګړي فکر او څرګندې موخې پر بنسټ په اکاډمیکو ساحو کې عملي کېږي، هره ستراتیژي په خپله کاري ساحه کې د ځانګړې پالېسۍ او موخې پر بنسټ پرمخ وړل کېږي، په یاد پروګرام کې ټولې ستونزې مشخص کېږي، چې د حل او پرمختک له پاره یې ځینې پلانونه او طرحې جوړېږي.

**ستراتیژیک پروګرام:** په دغه ستراتیژیک پروګرام کې لومړی د ځانکو په سطحه ستونزې، وړاندیزونه او ځینې طرحې ذکر کېږي او بیا ورته په ټولیزه توګه د پوهنتون په عمومي ستراتیژیک پلان کې د یو منظم میکانیزم له مخې د حل لاره لټول کېږي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو داسې علم، هنر او د مدیریتي پریکړو ټولګه ده، چې سمون شوو موخو ته د رسیدلو له پاره محیطي عواملو ته په پام سره تر سره کېږي.

**سمون:** سمون د ستراتیژیک پلان یو پړاو دی، چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

د لیدلوري ځانګړې کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عوامل ( داخلي او خارجي) د ستراتیژیک حالت او ممکنه ستراتیژیو ټاکل د لومړیتوبونو تعین او ځانګړې کول.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دویم پړاو دی، چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهالو موخو مشخص کول، کلنی عملي پلان، د بودیجې سمون، د پوهنتون د فزیکي جوړښت له پاره طرحې، د اجرایوي پالیسیو سمون، د پوهنتون د رهبرۍ د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړې کول.

**ارزونه:**

ارزونه د ستراتیژیک پلان دریم پړاو دی، چې د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو سره د پوهنتونونو د کړنو د عملي کولو لپاره یو میکانیزم جوړیږی.

**لیدلوری:**

د ځانګړي پوهنتون ذهني یا تجسمي انځور ته وايي، چې غواړي د خپلو کړنو په نتیجه کې يې تر لاسه کړي.

**ماموریت:**

د پوهنتون د شته والي یو داسې ذریعه ده، چې له نورو پوهنتونونو سره يې توپیر په ډاګه کوي، ماموریت باید څرګند، روڼ او د پوهنتون چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** عبارت له هغو ټکو څخه ده، چې د ټولو اکادمیکو کړنو نتیجه ګڼل کیږي تر لاسه شي. موخې باید د لاسته راوړنې او ننګونې وړ وي او یو ټاکلی وخت په برکې ونیسي او د څېړنې لارې او چارې يې باید ځانګړې وي او دغه موخې تر ډیره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:**

ارزښتونه په خپله د پوهنتون منل شوي اصول دي، چې د دې پر بنسټ د پوهنتون ماموریت او موخې تر لاسه کېږي. په ټوله کې د پوهنتون ارزښتونه هغه اصول او لارښونې دي کوم چې د پوهنتون د پریکړو، پراختیا او حرکت لوری ټاکي.

## د لغمان پوهنتون ستر اتیژیک پلان جوړښت



## بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين محمد وعلى آله و اصحابه اجمعين.**

### سریزه

ستراتیژیک پلان د یو پوهنتون لپاره منظم مدیریت ته لار هموارو ي، چې پوهنتون وکولی شي خپلې منابع په مؤثر ډول د ستراتیژیک پلان په اساس تنظیم کړي، ستراتیژیک پلان به د اوږد مهاله اهدافو لاسته راوړلو، د بدلون پر وړاندې چمتوالی، د شفافیت او حساب ورکونې ترځنګ د اړینو اړتیاوو لپاره تحلیلي مهارتونه، رهبري او همکاري،د دمعلوماتو راټولولو مهارتونه، څارنه او ارزونه د ستراتیژیک پلان د ښه تطبیق او تعقیبولو په موخه دا ټولې اړتیاوې د دې لپاره مهمې دي چې یو اغیزناک او واقعي ستراتیژیک پلان جوړ شي چې د پوهنتون پرمختګ تضمین کړي. لغمان پوهنتون د لغمان علم پالو ولسونو په مکرره غوښتنه د وخت جمهور رئیس له خوا په (۱۳۸۹ هـ ش ) کال کې منظور او په (۱۳۹۰ هـ ش ) کال کې د دوه پوهنځیو (کرنه او ادبیات او بشري علوم) په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ. د لغمان پوهنتون مخکنی پنځه کلن ستراتیژیک پلان چې د 1402 هـ ش کال په پای کې د اعتبار موده ترسره شوه، په همدې ۱۴۰۲ هـ ش کال کې لغمان پوهنتون د (۶) پوهنځیو په (۱۹) څانګو کې د لیسانس، ماستر او دوکتور په کچه (۱۰۳) تنه علمي کادر لرونکي استادان لري، چې له دې جملې څخه (۴) تنه پوهیالي، (۳۲) تنه نامزاد پوهنیار، (۴۴) تنه پوهنیار، (۱۸) تنه پوهنمل ، (۴) تنه پوهندوی او (۱) تن پوهنوال دعلمي رتبو لرونکي کادري غړي دي، چې په شپږ ګونو پوهنځیو کې تدریسي چارې پر مخ وړي، پوهنتون په اداري برخه کې (۳۱) تنه اداري کارکوونکي او (۲۸) خدماتي کارکوونکي لري، چې اداري او خدماتي چارې په منظم ډول پرمخ وړي، همدا رنګه پوهنتون په شپږ پوهنځیو کې (۲۷۸۷) تنه محصلین لرل چې په تدریس بوخت وه، پوهنتون د یادو استادانو، محصلینو، اداري او خدماتي کارکونکو ته د پرمختګ په موخه بېلا بېل روزنیز علمي پروګرامونه په لاره اچولي دي. په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د لوړو زده کړو وزارت د علمي کادر غړو د جذب لایحې مطابق په پوهنتون کې (۳۳) تنه علمي کادر غړي او (۱۸) تنه اداري کارکونکي جذب او دندو ته ګمارلي دي، په همدې کال د لوړو زده کړو وزارت له لوري د لغمان پوهنتون ځینی پوهځنیو کې نوې څانګې لکه: په انجنیري پوهنځي کې د اوبو چاپیریال ساتنې انجنیري څانګه، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې د دری څانګه او ښونې او روزنې پوهنځي کې د علوم او فرهنګ اسلامي څانګې منظور شوي دي. همدا رنګه پوهنتون د هېواد بېلا بېلو پوهنتونونو سره لکه: د کابل ، د کابل ښوونې او روزنې، ننګرهار، د هرات او د هیواد نورو پوهنتونونو سره د توامیت او ګډې همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي. پوهنتون د شته امکاناتو څخه په استفادې د محصلینو د مطالعاتو لپاره د کرنې پوهنځي تعمیر کې کتابتون فعال کړي

چې استفاده ور څخه جريان لري او همدارنګه د پوهنتون رياست په چوکاټ کې د څېړنو معاونيت رامنځته شوی دی چې اوس مهال يې په زياتو موضوعاتو باندې څېړنې ترسره کړې دي، چې د ځينو څېړنو پايلې مو له اړوندو ادارو سره هم شريکې شوې دي، همدارنګه لغمان پوهنتون د تحصيل علمي او څېړنيزې مجلې د فعاليت جواز د لوړو زده کړو وزارت څخه ترلاسه کړی دی. لغمان پوهنتون ته په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې ( 113,300,000 ) افغانۍ عادي او ( 6,754,400 ) افغانۍ انکشافي بوديجه د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه ورکړل شوې وه، چې د عادي بوديجې څخه ( 94,852,182 ) افغانۍ او انکشافي بوديجې څخه ( 6,529,400 ) افغانۍ په مصرف رسيدلې ده.

پوهنتون په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د ديپلوم، اختصاصی کانکور د فورمو، د پوهنتون د هويت کارتونو، د ترانسکريپ او سرتفيکيټ، د پروژو د افرونو، د روغنياتو باز پرداخت او د کانتين کرايې له طريقه مجموعه (1,702,540) افغانۍ عوايد تر لاسته کړي دي، په همدی کال کې يو شمير زيربناوې لکه: د پوهنتون د متباقي ساحې احاطوي ديوال، اداري کارکونکو لپاره يو باب کانتينري اداري تعمير، ادبياتو او بشري علومو پوهنځي د تعمير ترميم او رنګ، د ښونې او روزنې پوهنځي لپاره يو باب لابراتوار او د ټيکا موسسې په همکارۍ د پوهنتون لپاره د څښاک اوبو شبکې ايجاد او کارونه يې تر سره شوي دي او هم د ضرورت په اساس يو شمير اجناس او تجهيزات خريداري شوي دي. همدارنګه لغمان پوهنتون په مخکني پنځه کلن (۱۳۹۸-۱۴۰۲ هـ ش کال ) ستراتيژيک پلان کې د برياليتوب په موخه خپل ليدلوري او ماموريت، ارزښتونو او ستراتيژيکې موخې روښانه کړې وې، يو شمير بنسټيز اصلاحات پيل، د پوهنځيو معياري کول، نوی پروګرامونو رامنځته کول، له اداراتو سره همکاري او همغږي، انټرنيټي سهولتونه او پرمختګونه په پوهنتون کې رامنځته شوي دي، او يو شمير د ناکامي علتونه هم موجود وه د مثال په ډول: په ځينو برخو کې د ستراتيژيک پلان نه عملي کيدل، بوديجوي محدوديتونه، د ستراتيژيانو نه پلې کيدل، ارزونې په خپل وخت نه کول، د استادانو، محصلينو او اداري کارکوونکو په برنامو کې د ونډې د کموالي له امله ستراتيژيک اهداف ځنډېدلي او پاتي شوي دي. د لغمان پوهنتون رهبري په دې هڅه کې ده، چې د پوهنتون په ټولو علمي، اکاډميکو او اداري برخو کې د سيمې، هېواد او اوسني عصر د اړتياو سره سم کارېدونکي پروګرامونه د هېواد د ملي پراختيايي پلان او د لوړو زده کړو محترم وزارت د ستراتيژيک پلان په رڼا کې په کار واچوي، همدې موخې ته د رسېدو لپاره لغمان پوهنتون پنځه کلن يعنی ۱۴۰۳ څخه تر ۱۴۰۷ هـ ش کالونو پورې ستراتيژيک پلان ترتيب کړ، تر څو له مخې يې د علمي او څېړنيزو برنامو پراختيا، د پوهې او نوښت توليد، د سيستم ايجاد او اداري ريفورم، ښه حکومتوالي او اداري فساد سره مبارزه، د نصاب پراختيا، د لوړو زده کړو په نهادونو کې د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکونې د معيارونو د تطبيق څخه د ډاډ حاصلول، د الکترونکي زده کړو ښه والی او پراختيا، د زيربناوو

ښه والی او پراختیا، د ظرفیت لوړول، د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو نهادونو سره د اړیکو پراختیا او ښه والی او د دغو ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو له پاره د اړتیا وړ پروګرامونه په پام کې نیول شوي دي.

## د لغمان پوهنتون د عمومي رياست د ۱۴۰۳ هـ ش کال تشکيلاتي جوړښت



# لیدلوری او ماموریت

## لیدلوري

لغمان پوهنتون ژمن دی  چې د اسلامي ارزښتونو او نړیوالو معیارونو پر بنسټ داسی مسلکي او ژمن کادرونه وروزي چې د ټولنې د مثبت بدلون لامل وګرځي.

## ماموریت / رسالت

لغمان پوهنتون به دهېواد  په کچه د مسلکي بشري قوې پرمټ، د سرچینو او عصري ټکنالوژۍ په موثرې کارونې سره به په بېلابېلو برخو کې د اوسني عصر اړتیاوو ته په کتو په ملي او اسلامي روحیه سمبال د لیسانس او ماسترۍ تر کچې ژمن مستعد، مسلکي او په کارپو کادرونه وروزي.

## ارزښتونه

لغمان پوهنتون د خپل لیدلوري او رسالت د ترسره کولو په موخه د راتلونکو پنځو کلونو له پاره ځینې عمده او اساسي پروګرامونه په پلان کې لري، چې دغه پروګرامونه د ټاکل شویو موخو په ترسره کولو کې لاندې ارزښتونو ته ژمن دي:

- ✓ اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمنتیا
- ✓ نوښت
- ✓ کیفیت
- ✓ جدیت او څارنه
- ✓ مسولیت منل
- ✓ دوه اړخیزه احترام
- ✓ تخصص او مسلکي توب
- ✓ د ټیم په بڼه کارکول
- ✓ روښتیا او حساب ورکونه
- ✓ عدالت
- ✓ خدماتو ته په مساوي اندازه لاسرسی
- ✓ پایښت لرونکې پراختیا

## ستر اتیژیک اهداف او پروګرامونه

لغمان پوهنتون خپل ستراتیژیک اهداف د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتیژیک پلان او د افغانستان د اسلامي امارت د لومړیتوبونو په اساس ټاکلي دي، چې د دغو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره بېلابېل پروګرامونه په لار اچوي، د پوهنتون ستراتیژیکي موخې په لاندې ډول دي:

1. پوهې او نوښت ته د وده ورکولو په موخه څېړنو ته پراختیا ورکول.
2. د ښې اداري او رهبري رامنځته کول او د فساد له منځه وړل.
3. د نصاب پراختیا
4. د کیفیت ښه والی، علمي اعتبار ترلاسه کول او ساتل.
5. الکترونکي زده کړو ته پراختیا ورکول.
6. د زیربنایي پروژو پراختیا او تجهیز.
7. له ذیربطو ادارو سره د د توامیتونو او هوکړه لیکونو څخه د ګټې اخېستنې ظریفیت لوړل.
8. د کادري غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو ظرفیت لوړل.

**د لوړو زده کړو وزارت د ستر اتیژیک موخې**

### 1 . د څېړنې د پروسې پراختیا او بیاکتنه:

**۱. د څېړنیزو پروګرامونو تر سره کول**

په معیاري پوهنتونونو کې څېړنیزې پروژې طرحه او تطبیق کیږي چې په دې ډول د یوې ټولنې او هېواد د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ستونزو د حل لپاره لاره لتول کیږی او د ټولنې د پرمختګ لپاره له دوی سره شریکیږي. همدې موخې ته د رسېدو په موخه د لوړو زده کړو محترم وزارت په پوهنتونو کې د څېړنې او علمي مجلی معاونیتونه رامنځته کړل، چې نیکه مرغه په لغمان پوهنتون کې هم یاد معاونیت رامنځته شوی او خپلې برنامې یې په لاندې ډول ځانګړې کړې دي :

- ✓ د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د څېړنې کمیټه جوړول
- ✓ څېړنیزو فارمو ته د پراختیا ورکولو په موخه طرحې جوړول
- ✓ انجنیري پوهنځي لابراتوار ایجادول
- ✓ بېلابېلو څانګو کې د محصلینو په واسطه د څېړنو تر سره کول
- ✓ د علمي کادري غړو په واسطه د علمي مقالو لیکل

### ۲. د کادري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول

لغمان پوهنتون د سیمې او هېواد د اړتیا سره سره په بېلابېلو څانګو کې په مسلک پوه متخصصین روزي، چې د دغه کادرونو روزنه په کافي اندازه مسلکي او وړ کادري غړو ته اړتیا لري. لغمان پوهنتون هڅه کوي، چې د لوړو زده کړومحترم وزارت سره په تفاهم د اړتیا وړ بستونه ترلاسه او د لوړوزده کړو محترم وزارت د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې مسلکي او وړ کادرونه وګماري. لغمان پوهنتون به په راتلونکي کې د کادري بستونو د پراختیا، ګمارنې او ظرفیت لوړونې په برخه کې لاندینی کړنې ترسره کړي.

- ✓ د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملکي لوړو زده کړو د قانون مطابق په کار پوه، ملي او اکاډمیکو اصولو او ارزښتونو ته د ژمنو کادري وګړو ورانديز کول او ګمارل
- ✓ د هېواد دننه ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پېژندل
- ✓ د هېواد بهر د ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پېژندل
- ✓ د پوهنتون د داخلي منابعو څخه په استفادې سره استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو ته د ظرفیت لوړونې علمي ورکشاپونه دایرول

## 2. د زده کړو ښه والی او د تحصیلي نصاب بیاکتنه:

### ۳. د تحصیلي نصاب بیاکتنه او پراختیا

پوهنتونونه د ټولنې د اړتیا په اساس تأسیس کېږي او د ټولنې اړتیا او غوښتنې د تل له پاره د بدلون په حال کې وي، د دې له پاره چې فارغ شوي علمي کادر د ټولنې اړتیا او غوښتنې ته د قناعت وړ ځواب ووایي، د همدې موخې د ترلاسه کولو له پاره لغمان پوهنتون په دوریې ډول د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی سره سم تدریسي نصاب باندې بیا کتنه ترسره کوي او پراختیا ورکوي، دې موخې ته د رسېدو له پاره لاندې کړنې ترسره کېږي.

- ✓ د پوهنځي د تدریسي نصاب د تطبیق او څارنې په موخه د کمیټې جوړول
- ✓ د پوهنځیو اړوند دتدریسي کتابونو چاپ
- ✓ د ټولنې سره د بېلابېلو لارو اړیکو نیول
- ✓ د کریکولم د پراختیا په موخه د هېواد دننه د نورو پوهنتونو سره سلا مشورې کول
- ✓ د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی مطابق ارزونه ترسره کول

### ۴. د کرېډیټ سیستم ته پیاوړتیا ورکول

د نړۍ ډېری پوهنتونونه د کرېډیټ سېستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ وړي او له دې لارې محصلانو ته د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي، چې له یوې خوا محصلان وکولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. پوهنتون د کرېډیټ سېستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري.

- ✓ د کرېډیټ سېستم د اغېزمنتیا په اړه محصلینو ته معلومات ورکول
- ✓ د کرېډیټ سېستم د تطبیق څارل

### ۵. کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنه

پوهنتونونه د علمي او څېړنیزو خدماتو د ترسره کولو په اساس په بېلابېلو درجو وېشل کېږي، چې په همدې ډول د لوړو زده کړو وزارت د پوهنتونونو د علمي، اکاډمیکې و او څېړنیزو خدماتو د کفیت د ارزونې له پاره معیارونه جوړ کړي، چې د دغو معیارونو په تطبیق سره پوهنتونونو ته د خدماتو د ترسره کولو اعتبار ورکول کېږي او د نورو پوهنتونونو سره د رقابت په اساس ځانګړې درجې تر لاسه کوي، په همدې اساس د لغمان پوهنتون هم د لوړو زده کړو وزارت د پالیسۍ مطابق د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق له پاره لاندې کړنې ترسره کوي.

- ✓ د پوهنتون او پوهنځي په کچه د تضمین کیفیت کمېټو جوړول
- ✓ د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق په موخه څارنه او ارزونه

## 3. د ظرفیت لوړولو برنامو پیاوړي کول:

### ۶. کادري او اداري غړو د ظرفیت لوړولو پروګرامونه

لغمان پوهنتون د سیمې او هېواد د اړتیا سره سره په بېلابېلو څانګو کې په مسلک پوه متخصصین روزي، چې د دغه کادرونو روزنه په کافي اندازه مسلکي او وړ کادري غړو ته اړتیا لري. لغمان پوهنتون هڅه کوي، چې د خپل شته امکاناتو ته په کتو د لوړو زده کړومحترم وزارت سره په تفاهم د اړتیا وړ د ظرفیت لوړولو پروګرامونه په کار واچوي تر څو یاده موخه تر لاسه شي. لغمان پوهتنون به په راتلونکې کې د ظرفیت لوړونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کړي.

- ✓ څېړنې میتودولوژی
- ✓ څېړنیزو پروګرامونو کې کارونکې نرم افزار
- ✓ د اسلام له نظره د اخلاقو حیثیت

- ✓ اسلام او معاصر علوم
- ✓ د ديني علومو اهميت
- ✓ تدریس میتودولوژی
- ✓ مدیریت
- ✓ تضمین کیفیت
- ✓ د برېښنايي زده کړو  میتودونه
- ✓ نصاب ارزونه
- ✓ چاپېریال ساتنه
- ✓ فساد سره مبارزه
- ✓ د مخدره توکو  د کاروني مخنيوي
- ✓ د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتي سیستم مدیریت (HEMIS)
- ✓ کمپیوتر زده کړې

۷. د محصلینو  د ظرفیت لوړولو پروګرامونه

پوهنتون یو روزنیز مرکز دی، چې  د ټولنې  د اړتیا وړ بشري  ځواک روزي  او دا بشري ځواک هغه وخت په اغېزمن ډول روزل کېداي شي، چې دوی د پوهنتون په چاپېریال کې د خپل شته درسي نصاب څخه پرته د ظرفیت لوړوني نورو پروګرامونو ته معرفي شي. لغمان پوهنتون د راتلونکو پنځو کلونو په جریان کې د محصلینو ظرفیت لوړولو ترڅنګ د غوره خدماتو د ترسره کولو په موخه لاندي کړنې ترسره کوي.

- ✓ چاپېریال ساتنه
- ✓ فساد سره مبارزه
- ✓ د لمانځه اهمیت
- ✓ فکری پوهنه
- ✓ د ښه محصل صفات
- ✓ د مخدره توکو مخنیوي

- ✓ د پوهنتون او پوهځیو په اړه عامه پوهاوی
- ✓ د ژبو د زده کړې کورس
- ✓ کمپیوتر زده کړې
- ✓ د مونوګراف لیکل زده کړایز طریقي یا میتود
- ✓ مدیریت

**4 . د (HEMIS) پلې کول او د اداري فساد ریفورم او محوه کول:**

۸. د بریښنایي زده کړو پروګرام

په اوسني عصر کې د حضوري زده کړو تر څنګ د غیرې حضوري زده کړو پروګرامونو جوړولو ته اړتیا لېدل کېږي ، پوهنتونونه کولاي شي چې د معلوماتي تکنالوژی په کارولو سره غیر حضوري زده کړې په اسانی سره مخته یوسي او همدارنګه پوهنتونونه د معلوماتي تکنالوژی په مرستې سره نږدې شوي او کولاي شو، چې په خورا اسانی سره خپلې لاسته راوړنې او تجربې شریکې کړي. نو په همدې اساس د لغمان پوهنتون اداره هم د معلوماتي تکنالوژی په کارولو سره د حضوري زده کړو ترڅنګ د غیر حضوري زده کړو پروګرامونه هم پرمخ وړی شي او خپلې کړنې او خدمات وړاندې کولاي شي او همدارنګه دهېواد او نړی له معتبرو پوهنتونو سره وصلیدلای شي، لغمان پوهنتون اداره دې موخې ته د رسېدو په پار لاندې کړنې ترسره کوي:

1 د بریښنایي زده کړې کمېټې جوړول

2 د بریښنایي زده کړو لپاره کمپیوټر لیب جوړول

۹. معلوماتی تکنالوژی ته لاس رسی

معلوماتي تکنالوژي د اوسني عصر د اداري او تدریسي چارو د پرمخ وړلو له پاره د اړینو وسایلو څخه ګڼل کېږي. د معلوماتي تکنالوژی په مرسته د کارکوونکو تر منځ اړیکې، د معلوماتو په ساتنه، چاپ، او د معلوماتو په لېږد او رالېږد کې اسانتیاوې رامنځته کوي. په همدې بنسټ د لغمان پوهنتون هم د خپلو اداري او تدریسي چارو د سمون او چټکتیا په موخه لاندې کړنې تر سره کوي:

- ✓ د انټرنیټ اسانتیاوې برابرول
- ✓ په ټولو اداري او تدریسي پروسو کې د معلوماتي تکنالوژی د وسایلو کارول

## 5. د تقنيني اسنادو بيا کتنه:

### ۱۰. د غوره حکومتوالي رامنځته کول او اداري بيروکراسی له منځه وړل

هره اداره د غوره خدماتو د ترسره کولو لپاره د اړتيا وړ اداري تشکيل او مالي سرچينو ته اړتيا لري، چې دغه اداري تشکيل د صلاحيتونو او مسوليتونو په چوکاټ کې د وړ بشري ځواک په ګمارنه او روزنه بشپړيږي. همدارنګه په يوه اداره کې فساد د پرمختګونو په وړاندې خنډونه رامنځته کوي، چې د دغې شومې پديدې د له منځه وړلو له پاره د لغمان پوهنتون رهبری د افغانستان اسلامي امارت د قوانيو، لوړو زده کړو قوانينو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو په رڼا کې خپلې کړنې تنظيموي، او هر ډول بيروکراسی له منځه وړي تر څو د پوهنتون اړوندو ادارو کې د هر ډول فساد مخنيوی وشي او په دې توګه غوره حکومتوالی رامنځته شي.

- ✓ د اړتيا وړ اداري کارکوونکو ورانديز کول او ګمارل
- ✓ د اړتيا وړ خدماتي کارکوونکو ورانديز کول او ګمارل
- ✓ په پوهنتون کې د رهبري، علمي او اداري مجالسو دايرول
- ✓ په تولو چارو کې د هيواد دنافذه قوانينو، لوړو زده کړو قوانينو، لوايحو، مقررو، پاليسيو او طرزالعملونو تطبيق او څارنه
- ✓ د پوهنتون او پوهنځيو په کچه د فساد سره د مبارزې کمېټې رامنځته کول
- ✓ د اداري فساد د مخنيوي اړوند عامه پوهاوي

## 6. د محصلينو و هوساينې پروسې بيا کتنه:

### ۱۱. د مناسب تدريسي او اداري چاپيريال د رامنځته کولو لپاره د اړتيا وړ زيربناوو جوړول

هره اداره د خپلو خدماتو د ترسره کولو له پاره تأسيساتو او زېربنا و ته اړتيا لري ، لغمان پوهنتون هم د تدريسي ، علمي او اداري فعاليتونو د ترسره کولو له پاره بېلابېلو تأسيساتو ته اړتيا لري، چې د پوهنتون د ماستر پلان مطابق اعمار شي او په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې تأسيساتو ته اړتيا ليدل کېږي:

- ✓ د اقتصاد پوهنځي ودانی جوړول
- ✓ شرعياتو پوهنځي ودانی جوړول
- ✓ کتابداری او معلوماتي ساينس پوهنځي ودانی جوړول
- ✓ ژورناليزم پوهنځي ودانی جوړول

- ✓ د پوهنتون د غونډو عمومي تالار
- ✓ د پوهنتون لپاره د عمومي کتابتون جوړول
- ✓ کمپيوټر ساينس پوهنځي وداني جوړول
- ✓ وترنری پوهنځي ودانی جوړول
- ✓ د حقوقو پوهنځي ودانی جوړول
- ✓ د ټولو پوهځيو لپاره کتابتونونه جوړول

۱۲. د محصلينو لپاره غوره خدمات ترسره کول

پوهنتون يو روزنيز مرکز دی، چې د ټولنې د اړتيا وړ بشري ځواک روزي او دا بشري ځواک هغه وخت په اغېزمن ډول روزل کېداي شي ، چې دوی د پوهنتون په چاپېريال کې ارامتيا محسوس کړي او دا احساس د يو منظم او مکمل چاپېريال په رامنځته کېدو سره ترلاسه کېداي شي. لغمان پوهنتون د راتلونکو پنځو کلونو په جريان کې محصلينو ته د غوره خدماتو د ترسره کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي.

- ✓ د مسلکي پوهې تر څنګ د لازمو مهارتونو زده کړې چاپېريال چمتو کول
- ✓ د پوهنتون د چاپېريال سره د بلدتيا روزنيزو برنامو جوړول يا عامه پوهاوي
- ✓ د شنې ساحې پراختيا
- ✓ د محصلينو وړانديزونو او شکايتونو ته دلاس رسي سېستم جوړولو په موخه د نظم او ډسپلين کميټو جوړول
- ✓ سپورتي پروګرامونو د ترسره کولو لپاره د ميدانو جوړول

۱۳. د نويو پوهنځيو اوڅانګو رامنځته کول

لغمان پوهنتون به په راتلونکي پنځو کلنو کې د ټولنې د اړتيا سره سم نوي پوهنځي او په شته پوهنځيو کې نوې څانګې رامنځته کړي چې په دې سره به علمي، تدريسي او اداري چارې لا پراخه شي.

- ✓ انجنيري پوهنځي کې د ټرانسپورټيشن څانګې ايجادول
- ✓ کرنې پوهنځي کې د حيواني علومو څانګې ايجادول
- ✓ شرعياتو پوهنځي کې د اسلامي ثقافت څانګې ايجادول

- ✓ ادبیاتو پوهنځي کې د دری څانګې ایجاد
- ✓ ښوونې او روزنې پوهنځي کې د اسلامي فرهنګ او علومو څانګې ایجاد
- ✓ د کتابدارۍ او معلوماتي ساینس پوهنځي ایجاد
- ✓ ژورنالیزم پوهنځي ایجاد
- ✓ شرعیاتو پوهځي کې د تفسیر د څانګې ایجاد
- ✓ ښونې او روزنې پوهنځي کې د تاریخ د څانګې ایجاد
- ✓ د کرنې پوهنځي د نباتاتو ساتنې څانګه کې د ماسترۍ برنامې ایجاد
- ✓ شپې برنامې ایجادول
- ✓ د کمپیوټر ساینس پوهځي ایجاد
- ✓ وترنرۍ پوهنځي ایجاد
- ✓ د کرنې پوهنځي د باغدارۍ څانګه کې د ماسترۍ برنامې ایجاد
- ✓ ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګه کې د ماسترۍ برنامې ایجاد
- ✓ حقوقو پوهنځي ایجاد
- ✓ اقتصاد پوهنځي کې د ملي اقتصاد څانګې ایجاد
- ✓ انجنیرۍ پوهنځي سیول څانګه کې د ماسترۍ برنامې ایجاد
- ✓ ښونې او روزنې پوهنځي کې د جغرافیه څانګې ایجاد
- ✓ شرعیاتو پوهنځي اسلامي تعلیماتو څانګه کې د ماسترۍ برنمې ایجاد

### 7. د جوړښتونو او پروسو ښه والی او بیا کتنه:

۱۴. د غوره حکومتوالي رامنځته کول او اداري بیروکراسی له منځه وړل

هره اداره د غوره خدماتو د ترسره کولو لپاره د اړتیا وړ اداري تشکیل او مالي سرچینو ته اړتیا لري، چې دغه اداري تشکیل د صلاحیتونو او مسولیتونو په چوکاټ کې د وړ بشري ځواک په ګمارنه او روزنه بشپړیږي. همدارنګه په یوه اداره کې فساد د پرمختګونو په وړاندې خنډونه رامنځته کوي، چې د دغې شومې پدیدې د له منځه وړلو له پاره د لغمان پوهنتون رهبری د افغانستان اسلامي امارت د قوانیو، لوړو زده کړو قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو په رڼا کې

خپلې کړنې تنظیموي، او هر ډول بیروکراسی له منځه وړي تر څو د پوهنتون اړوندو ادارو کې د هر ډول فساد مخنیوی وشي او په دې توګه غوره حکومتوالی رامنځته شي.

- ✓ د اړتیا وړ اداري کارکوونکو ورانديز کول او ګمارل
- ✓ د اړتیا وړ خدماتي کارکوونکو ورانديز کول او ګمارل
- ✓ په پوهنتون کې د رهبري، علمي او اداري مجالسو دايرول
- ✓ پـه ټولـو چـارو کـې د هيـواد دنافـذه قوانينـو، لـوړو زده کـړو قوانينـو، لوايحـو، مقـررو، پالیسـيو او طرزالعملونو تطبيق او څارنه
- ✓ د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د فساد سره د مبارزې کمېټې رامنځته کول
- ✓ د اداري فساد د مخنیوي اړوند عامه پوهاوي

## 8. د عوایدو د مرکزونو جوړول:

۱۵. د عایداتي سرچینو رامنځته کول، پراختیا او مالي خپلواکي ترلاسه کول

د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی له مخې به پوهنتونونه په راتلونکې کې مالي خپلواکۍ ولري ترڅو د اړتیا وړ بودیجه د خپلو منابعو څخه چمتو او په خپل صلاحیت سره د خپلو اړتیاو د رفع کولو له پاره لګښت پرې کړي. لغمان پوهنتون د خپل اړتیا وړ بودیجې د ترلاسه کولو په موخه عایداتي سرچنې رامنځته کوي، چې په دې برخه کې د پوهنتون ریاست لاندې کړنې په نظر کې لري:

- ✓ د شپې برنامې رامنځته کول
- ✓ د کرنیزو ، څېړنیز او تولیدي فارمونو جوړول
- ✓ د راډیو فعالول
- ✓ سوداګريزو او کلتوري ننداړتونونو جوړول
- ✓ د پوهنتون په داخل کې د زراعتي محصولاتو خرڅلاو لپاره غرفه جوړول
- ✓ د ډیپلوم او ترانسکریپت ورکړه
- ✓ څېړنيزو پروژه د ترسره کولو لپاره د فارم جوړول
- ✓ د ژبې تدریس لپاره غربز وسایل
- ✓ لابراتواری وسایلو خریداری

- ✓ د پوهنځی د مخې ساحې هموار کاري
- ✓ ترمیمات
- ✓ د محصلینو د زده کړې لپاره معیاری تدریسي صنفونو جوړول
- ✓ د چمنونو جوړول
- ✓ د کمپیوټر لیب لپاره د اجناسو خریداری

**9 . د کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د همکاری اختیا:**

۱۰. د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه او تواميتونه

د پوهنتونونو او نورو اړوندو ادارو ترمنځ هوکړه لیکونه د علمي او روزنيزو چارو د پراختیا په موخه ترسره کیږي، د دې پرمټ د دوو ادارو ترمنځ د مشترک کار د ترسره کولو چاپېریال رامنځته کیږی. همدې موخې ته په کتو سره لغمان پوهنتون هم په راتلونکو پنځو کلونو کې د بېلابېلو اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو ادارو سره د هوکړه لیکونو د ترسره کولو پلان لري.

- ✓ کابل پوهنتون
- ✓ ننگرهار پوهنتون
- ✓ د کابل تعلیم او تربیه پوهنتون
- ✓ کابل پولی تخنیک پوهنتون
- ✓ سید جمال الدین افغان پوهنتون
- ✓ شیخ زاید پوهنتون
- ✓ پکتیا پوهنتون
- ✓ البیرونی پوهنتون
- ✓ د لغمان ولایت د کرنې ریاست او چاپیریال ساتنې ریاست
- ✓ د لغمان ولایت پوهنې ریاست او د مهترلام ښاروالی ریاست
- ✓ د لغمان ولایت د مستوفیت ریاست او ښارجوړونې ریاست
- ✓ د لغمان ولایت اقتصاد ریاست او فواید عامې ریاست
- ✓ د لغمان ولایت کار او ټولنیزو چارو ریاست

✓ د لغمان ولایت اطلاعاتو او کلتور ریاست او راډیو تلویزون ریاست

✓ د افغانستان اسلامي بانک او بریښنا ریاست

✓ د لغمان ولایت د سندیزې حوزې ریاست او د کلیو پراختیا ریاست

## ۱۰ . د علمي مرکزونو د کیفیت لوړوني او اعتبارورکوني خپلواکه اداري جوړول.

### ۱۶. کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنه

پوهنتونونه د علمي او څېړنیزو خدماتو د ترسره کولو په اساس په بېلابېلو درجو وېشل کېږي، چې په همدې ډول د لوړو زده کړو وزارت د پوهنتونونو د علمي، اکاډمیکي و او څېړنیزو خدماتو د کفیت د ارزونې له پاره معیارونه جوړ کړي، چې د دغو معیارونو په تطبیق سره پوهنتونونو ته د خدماتو د ترسره کولو اعتبار ورکول کېږي او د نورو پوهنتونونو سره د رقابت په اساس ځانګړې درجې تر لاسه کوي، په همدې اساس د لغمان پوهنتون هم د لوړو زده کړو وزارت د پالیسۍ مطابق د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق له پاره لاندي کړنې ترسره کوي.

✓ د پوهنتون او پوهنځي په کچه د تضمین کیفیت کمېټو جوړول

✓ د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق په موخه څارنه او ارزونه

**د پوهنتون د چاپیریال ارزونه**

د یوې اداري کړنې په دوو چاپیریالونو کې د شته عواملو تر اغیزې لاندي راځي، دا عوامل د اداري په داخلي چاپیریال او همدارنګه د بهرني چاپیریال پورې اړه لري. د اداري اړوند داخلي چاپېریال کې د اداري پیاوړتیا (Strength) او کمزورتیا (Weakness) شامل دي، په بهرني چاپیریال کې شته فرصتونه (Oppertunities) او هغه ګواښونه (Threats) چې د اداري د ستراتیژیکو اهدافو د ترلاسه کولو په پروسې باندي اغیزه کوي، بناً د لغمان پوهنتون هم د خپلو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره خپل داخلي او بهرنی چاپیریال ارزولی، او د ارزونې څخه یې موخه داده چې نوموړې اداره د خپلو پیاوړتیاو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او خپل کمزوري ټکي له منځه یوسي، همدارنګه په بهرني چاپیریال کې د شته فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او له ګواښونو څخه مخنیوی وکړي، ترڅو خپل ټاکل شوي پروګرامونه او کړنې په اغیزمنه توګه عملي کړي.

**د پوهنتون د داخلي چاپیریال تحلیل**

د داخلي چاپېریال تحلیل، د پوهنتون اړونده عواملو په ګوته کول دي، کوم چې د پوهنتون د اداري په واسطه د مدیریت او کنټرول وړ دي او په دوه ډلو وېشل شوي پیاوړتیا او کمزورتیا، په دغه تحلیل کې د پوهنتو پیاوړي او کمزوي ټکي په

ګوته شوي او ډلبندي شوي، د دغه پروسې په پیل کې د پوهنتون د داخلي چاپیریال اړوند ټول عوامل په نښه شوي او وروسته بیا د پوښتنپاڼې په مرسته هر یو عامل او د هغه اغېزې پېژندل شوي او په پای کې د پوهنتون پیاوړتیا او کمزورتیا په لاندې توګه د هغوی د اغېزې د درجې په اساس لیست شوي دي.

**پیاوړتیا (Strengths)**

| ګڼه | پیاوړتیا (Strengths) | درجه |
|---|---|---|
| 1 | د پیاوړې رهبرۍ او مدیریت شتون | S1 |
| 2 | په پوهنتون کې د اخلي علمي ژورنال شتون | S2 |
| 3 | د پوهنتون د انکشاف له پاره د پراخې ساحې شتون | S3 |
| 4 | د باتجروبه کادري غړو شتون | S4 |
| 5 | د ماستر او دوکتورا تر کچې پورې د استادانو شتون | S5 |
| 6 | د پوهنتون د پراختیا له پاره د ماسترپلان شتون | S6 |
| 7 | د پوهنځیو او پوهنتون په کچه د بېلابېلو کمېټو شتون | S7 |
| 8 | د علمي خپرنو په برخه کې کافي وړتیا شتون | S8 |
| 9 | د باتجروبه اداري پرسونل شتون | S9 |
| 10 | د مناسب تدریسي او اداري کاري چاپېریال شتون | S10 |
| 11 | د پوهنتون د ادارو تر منځ د ښې همغږۍ شتون | S11 |
| 12 | د پوهنتون په ساحه کې د مناسبې حاصل خیزې خاورې شتون | S12 |
| 13 | په کافي اندازه برېښنا شتون | S13 |
| 14 | د انټرنیټ شتون | S14 |
| 15 | د ژمن او زیارکښو محصلانو شتون | S15 |

کمزورتیا(Weaknesses)

| گڼه | کمزورتیا (Weaknesses) | درجه |
| --- | --- | --- |
| 1 | د لوړ رتبه استادانو کمبود | W1 |
| 2 | په پوهنځیو کې د عملي زده کړو له پاره د مجهزو لابراتوارونو کمبود | W2 |
| 3 | د نړۍ والو او آنلاین ژورنالونو نه شتون | W3 |
| 4 | په پوهنځیو کې د علمي کادري غړو کموالی. | W4 |
| 5 | د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د اداري او خدماتي کارکونکو کموالی. | W5 |
| 6 | د قراردادي استادانو له پاره ناچیزه معاش له اثره د تدریسي کچې ټیټوالي | W6 |
| 7 | د محصلینو له پاره په کافي اندازه د لیلي نه شتون | W7 |
| 8 | د مرکزي کتابتون عدم پراختیا | W8 |
| 9 | په پوهنتون کې د صحي روغتون نه شتون | W9 |
| 10 | د شنو ساحو کموالی | W10 |
| 11 | د محصلینو له پاره د ورزشي ساحو کمبود | W11 |
| 12 | IT سنټر نه موجودیت | W12 |
| 13 | څېړنیز مرکز نه شتون | W13 |
| 14 | تدریسي خونو کموالی | W14 |
| 15 | د اډیټوریم نه شتون | W15 |

## د داخلي لاملونو د ارزونې ماتریکس

- په لومړی مرحله کې داخلي عوامل چې د پوهنتون پیاوړي او کمزورې ټکي په کې لېست کېږي.
- په دوهمه مرحله کې لېست شوي عواملو ته د صفر(0) څخه تر (1) پورې د هغوی د اړتیا او نسبي اهمیت په اساس ضریب ورکول کېږي، چې د صفر(0) ضریب هغه عامل ته چې اهمیت نه لري او (1) هغه عامل ته چې ډېر د اهمیت

وړ وي ورکړل شوی. هغه عوامل که د پیاوړتیا عوامل وي او که د کمزورتیا عوامل وي د ادارې په کړنو باندې د هغوی د لوړې کچې اغیزمنتیا په اساس لوړ ضریب ورکول کیږي.

- په دریمه مرحله کې عواملو ته د (1)څخه تر (4) پورې نمرې ورکول شوي، چې (1) نمره د بنیادي کمزوري عامل لپاره او (2) لږ کمزوري عامل لپاره، د (3) نمره پیاوړي عامل لپاره او د (4) نمره د ډېر لوړ پیاوړي عامل لپاره ټاکل شوي دي.
- په څلورمه مرحله کې د هر عامل ضریب د هغه په ترلاسه شوي نمرو کې ضرب شوی.
- په پایله کې د ټولو پیاوړو عواملو مجموعه او د کمزورو عواملو مجموعه ترلاسه شوې او د پیاوړو عواملو د مجموعې څخه د کمزورو عواملو مجموعه منفي شوې او د ادارې د داخلي عواملو نمرې ټاکل شوي دي.

| ګڼه | پیاوړتیا (Strengths) | ضریب | درجه | حاصل ضرب |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د پیاوړې رهبرۍ او مدیریت شتون | 0.039 | 4 | 0.156 |
| 2 | په پوهنتون کې د اخلي علمي ژورنال شتون | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 3 | د پوهنتون د انکشاف له پاره د پراخې ساحې شتون | 0.031 | 4 | 0.124 |
| 4 | د باتجروبه کادري غړو شتون | 0.02 | 3 | 0.06 |
| 5 | د ماستر او دوکتورا تر کچې پورې د استادانو شتون | 0.023 | 3 | 0.069 |
| 6 | د پوهنتون د پراختیا له پاره د ماسترپلان شتون | 0.044 | 4 | 0.176 |
| 7 | د پوهنځیو او پوهنتون په کچه د بېلابېلو کمېټو شتون | 0.031 | 4 | 0.124 |
| 8 | د علمي څېړنو په برخه کې کافي ورتیا شتون | 0.035 | 4 | 0.140 |
| 9 | د باتجروبه اداري پرسونل شتون | 0.025 | 3 | 0.075 |
| 10 | مناسب تدریسي او اداري کاري چاپېریال شتون | 0.039 | 3 | 0.117 |
| 11 | د پوهنتون د ادارو تر منځ د ښې همغږۍ شتون | 0.036 | 3 | 0.108 |
| 12 | د پوهنتون په ساحه کې د مناسبې حاصل خیزې خاورې شتون | 0.051 | 4 | 0.204 |
| 13 | کافي اندازه برېښنا شتون | 0.043 | 4 | 0.172 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 14 | د انټرنیت شتون | 0.049 | 4 | 0.196 |
| 15 | د ځمکې او زیارکښو محصلانو شتون | 0.035 | 4 | 0.140 |
| **ګڼه** | **کمزورتیا (Weaknesses)** | **ضریب** | **درجه** | **حاصل ضرب** |
| 1 | د لوړ رتبه استادانو کمبود | 0.038 | 1 | 0.038 |
| 2 | په پوهنځیو کې د عملي زده کړو له پاره  د مجهزو لابراتوارونو کمبود | 0.039 | 2 | 0.078 |
| 3 | د نړۍ والو ژورنالونو نه شتون | 0.034 | 2 | 0.068 |
| 4 | په پوهنځیو کې د علمي کادري غړو کموالی. | 0.035 | 1 | 0.035 |
| 5 | د پوهنتون او پوهنځیو په کچه  د اداري او خدماتي کارکونکو کموالی. | 0.043 | 1 | 0.043 |
| 6 | د قراردادي استادانو  له پاره  ناچیزه معاش له اثره د تدریسي کچې ټیټوالي | 0.038 | 1 | 0.038 |
| 7 | د محصلینو له پاره  په کافي اندازه د لیلي نه شتون | 0.038 | 2 | 0.076 |
| 8 | د مرکزي کتابتون عدم پراختیا | 0.045 | 1 | 0.045 |
| 9 | په پوهنتون کې د صحي روغتون نه شتون | 0.031 | 2 | 0.062 |
| 10 | د شنو ساحو کموالي | 0.034 | 1 | 0.034 |
| 11 | د محصلینو له پاره  د ورزشي ساحو کمبود | 0.027 | 2 | 0.054 |
| 12 | IT سنټر نه موجودیت | 0.047 | 1 | 0.047 |
| 13 | څېړنيز مرکز نه شتون | 0.046 | 1 | 0.046 |
| 14 | تدریسي خونو کموالي | 0.01 | 2 | 0.02 |
| 15 | د اډیتوریم نه شتون | 0.01 | 2 | 0.02 |
| | د ټولو داخلي لاملونو( پیاوړتیا او کمزورتیا) مجموعه | | | 2.715 |

## د پوهنتون د بهرني چاپېریال تحلیل

د پوهنتون د بهرني چاپېریال تحلیل، د پوهنتون د اداري څخه د بهر د شته عواملو په ګوته کول دي کوم چې د پوهنتون په ټولو کړنو باندې په مستقیم او یا غیر مستقیمه توګه اغېزه کوي، چې دغه عوامل په کمه اندازه او یا هم هیڅ د پوهنتون د اداري د مدیریت او کنټرول لاندې نه وي او په دوه ګروپونو وېشل شوي(فرصتونه او ګواښوونه) د دغه تحلیل په

پروسه کې د اداري اړوند د لوړو سطحو مدیرانو او نظر ور وګړو پوښتني شوي او د هغوی نظرونه ترلاسه شوي، چې په پایله کې د پوهنتون د بهرني چاپېریال اړوند (فرصتونه او ګواښونه) په ګوته شوي او درجه بندي شوي دي.

**فرصتونه(Opportunities)**

| ګڼه | فرصتونه (Opportunities) | درجه |
|---|---|---|
| 1 | په کافي اندازه د بشري ځواک شتون د ولایت په سطحه | O1 |
| 2 | د پوهنتون جغرافیوي موقعیت | O2 |
| 3 | د پوهنتون شاوخوا د پراخې دولتي، ښاري او  تفریحي ساحې موجودیت | O3 |
| 4 | محصلینوته دخدماتو وړاندې کول په موخه د خصوصي سکتور شتون | O4 |
| 5 | د داخلي پوهنتونونو د همکارانو موجودیت | O5 |
| 6 | د اړوندو ادارو د همغږي موجودیت | O6 |
| 7 | د څېړنو له پاره د پروګرامونو شتون | O7 |
| 8 | د استادانو  د علمي کچې  لوړوالي له پاره  د ماسترۍ او دوکتورا بورسونو موجودیت | O8 |
| 9 | د هیواد په کچه لغمان ولایت په دویمه درجه ولایتونو لیست کې شاملیدل | O9 |
| 10 | د پوهنتون سره نژدې د شاهي کانال تېریدل | O10 |
| 11 | له پوهنتون سره د ولسونو علاقه مندي او مرسته | O11 |
| 12 | د لوړو زده کړو سره د ځوانانو لېوالتیا | O12 |
| 13 | پوهنتون په اداره باندې د محصلینو د کورنیو باور | O13 |
| 14 | د فارغ شویو محصلینو لپاره په خصوصي او دولتی سکتورونو کې د کار زمینه | O14 |
| 15 | د پاکې آب او هوا شتون | O15 |

**ګواښونه(Threats)**

| ګڼه | ګواښونه (Threats) | درجه |
|---|---|---|
| 1 | د پوهنتون په ساحه کې د سېلابونو را وتل | T1 |
| 2 | د پوهنتون د وسايطو او وسايلو د خونديتوب لپاره د احاطې نه شتون | T2 |
| 3 | د پوهنتون په داخل او چاپېريال کې په کافي اندازه د اوبو نه شتون | T3 |
| 4 | په ښار کې د محصلينو او استادانو لپاره د استوګنې مناسبه ځای نشتون | |
| 5 | د پوهنتون په ساحه کې د کرش پلانټ شتون | T5 |
| 6 | د محصلينو له پاره د ښاري ترانسپورت منظم سيستم نه شتون | T6 |
| 7 | لغمان پوهنتون ته د نورو ولاياتو محصلينو کمه علاقه مندي | T7 |
| 8 | د وزارت په سطحه په کادري برخه کې د نوی تشکيل نه شتون | T8 |
| 9 | د پوهنتون په سطحه د اکادميکې خپلواکۍ نه شتون | T9 |
| 10 | د لوړو زده کړو وزارت څخه د اعتبار ترلاسه کولو لپاره د منابعو نه شتون | T10 |
| 11 | د پوهنتون سره د خصوصي سکتور د همکارۍ نشتون | T11 |
| 12 | د پوهنتون سره د سکتوري رياستونو په کافي اندازه د همکارۍ نه شتون | T12 |
| 13 | په بازار کې د پياوړې (مناسبې) ټکنالوژۍ نه شتون | T13 |
| 14 | اقتصادي بې ثباتي | T14 |

**تحليل:** د داخلي لاملونو د ماتريس په ارزونه کې، د نمرو مجموعه د (1) او (4) ترمنځ او د دوی اوسط (2.5) وي.که چېرې د ټولو لاملونو مجموعه د (2.5) څخه کمه وي، دا په دې معنې ده، چې اداره د داخلي لاملونو له کبله د کمزورتيا سره مخ ده او که چېرې له (2.5) څخه لوړه وي، دا د دې ښودنه کوي چې اداره د داخلي لاملونو له کبله پياوړې ده.

په پورتنی جدول کې د لغمان پوهنتون اداري د داخلي لاملونو مجموعه له نيمايي څخه لوړه ده، چې (2.715) ده ، دا د دې څرګندونه کوي چې اداره د داخلي لاملونو له کبله په پياوړي حالت کې واقع ده. او همدارنګه د ارزونې څخه دا پايله هم ترلاسه کېږي، چې په ځانګړې توګه داخلي لاملونو څخه د پوهنتو ن اداري اړوند

چاپېریـال کـې  د پیـاوړو ټکـو مجموعـه د کمـزورو ټکـو لـه مجمـوعې څخـه زیاتـه ده دا پـه دې معنی ده، چې اداره کـولای شـي پـه راتلـوونکي کې د پیـاوړي ټکـو  پـه واسـطه کمـزوري ټکي لـه منځـه یوسـي او پـه اسـانی سـره خپلې ستراتیژیکې موخې ترلاسه کړي.

**د بهرنیو لاملونو د ارزونې ماتریکس**

- پـه لـومړۍ مرحلـه کې بهرنـي عوامـل چې د اداري لپـاره فرصـتونه دي او یـا هـم د اداري لپـاره ګواښـونه دي لېست کېږي.
- پـه دویمـه مرحلـه کې دغـه عواملـو تـه ضـریبونه ورکـړل شـوي، لـه صـفر( اهمیـت نـه درلـودونکی) څخـه تـر 1 (ډیـر اهمیـت درلـودونکي) پـورې، ضـریبونه د یوعامـل د نسـبي اهمیـت ښـودونکي دي، چې د اداري د کړنـو د بریـالیتوب لپـاره د ګواښـوونو پـه پرتلـه ورکـول شـوي، کـه چېرې ګواښـونه هـم پیـاوړي وي بایـد چې لـوړ ضـریب ورته ورکړل شي.
- پـه دریمـه مرحلـه کې  هریـو عامـل تـه نمـرې ورکـول شـوي،  چې د (1) څخـه تـر (4) پـورې درجې د عامـل د اغېـزې پـه کتـو سـره ورکـول شـوي. کـه چېرې یـو فرصـت اسـتثنایي فرصـت وي (4) درجـه او کـه معمـولي فرصـت وي (3) درجـه او کـه یـو تهدیـد معمـولي ګـواښ وي (2) درجـه او کـه چېرې یـو ګـواښ جـدي وي (1) درجه ورکول شوي دي.

| ګڼه | فرصتونه (Opportunities) | ضریب | درجه | دضرب حاصل |
|---|---|---|---|---|
| 1 | په کافي اندازه د بشري ځواک شتون د ولایت په سطحه | 0.042 | 4 | 0.168 |
| 2 | د پوهنتون جغرافیوي موقعیت | 0.041 | 4 | 0.164 |
| 3 | د پوهنتون شاوخوا د پراخې دولتي، ښاري او  تفریحي ساحې موجودیت | 0.036 | 3 | 0.108 |
| 4 | محصلینوته دخدماتو وړاندې کول په موخه د خصوصي سکتور شتون | 0.034 | 3 | 0.102 |
| 5 | د داخلي پوهنتونونو د همکارانو موجودیت | 0.042 | 4 | 0.168 |
| 6 | د اړوندو ادارو د همغږۍ موجودیت | 0.045 | 3 | 0.135 |
| 7 | د څېړنو له پاره د پروګرامونو شتون | 0.038 | 3 | 0.114 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 8 | د استادانو د علمي کچې لوړوالي له پاره د ماسترۍ او دوکتورا بورسونو موجودیت | 0.049 | 4 | 0.196 |
| 9 | د هیواد په کچه لغمان ولایت په دویمه درجه ولایتونو لیست کې شاملیدل | 0.038 | 3 | 0.114 |
| 10 | د پوهنتون سره نژدې د شاهي کانال تېرېدل | 0.046 | 4 | 0.184 |
| 11 | له پوهنتون سره د ولسونو علاقه مندي او مرسته | 0.041 | 4 | 0.164 |
| 12 | د لوړو زده کړو سره د ځوانانو لېوالتیا | 0.016 | 3 | 0.048 |
| 13 | پوهنتون په اداره باندې د محصلینو د کورنیو باور | 0.032 | 3 | 0.096 |
| 14 | د فارغ شویو محصلینو لپاره په خصوصي او دولتي سکتورونو کې د کار زمینه | 0.015 | 3 | 0.045 |
| 15 | د پاکې آب او هوا شتون | 0.010 | 3 | 0.030 |
| **ګڼه** | **ګواښونه (Threats)** | **ضریب** | **درجه** | **دضرب حاصل** |
| 1 | د پوهنتون په ساحه کې د سېلابونو را وتل | 0.054 | 1 | 0.054 |
| 2 | د پوهنتون د وسایطو او وسایلو د خوندیتوب لپاره د احاطې نه شتون | 0.034 | 2 | 0.068 |
| 3 | د پوهنتون په داخل او چاپېریال کې په کافي اندازه د اوبو نه شتون | 0.044 | 1 | 0.044 |
| 4 | په ښار کې د محصلینو او استادانو لپاره د استوګنې مناسبه ځای نشتون | 0.038 | 1 | 0.038 |
| 5 | د پوهنتون په ساحه کې د کرش پلانټ شتون | 0.037 | 2 | 0.074 |
| 6 | د محصلینو له پاره د ښاري ترانسپورت منظم سیستم نه شتون | 0.039 | 2 | 0.078 |
| 7 | لغمان پوهنتون ته د نورو ولایاتو محصلینو کمه علاقه مندي | 0.025 | 2 | 0.05 |
| 8 | د وزارت په سطحه په کادري برخه کې د نوی تشکیل نه شتون | 0.036 | 1 | 0.036 |
| 9 | د پوهنتون په سطحه د اکادمیکې خپلواکۍ نه شتون | 0.036 | 1 | 0.036 |
| 10 | د لوړو زده کړو وزارت څخه د اعتبار ترلاسه کولو لپاره د منابعو نه شتون | 0.024 | 2 | 0.048 |
| 11 | د پوهنتون سره د خصوصي سکتور د همکارۍ نشتون | 0.014 | 2 | 0.028 |
| 12 | د پوهنتون سره د سکتوري ریاستونو په کافي اندازه د همکارۍ نه شتون | 0.033 | 2 | 0.066 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 13 | په بازار کې د پیاوړي (مناسبې) ټکنالوژي نه شتون | 0.035 | 1 | 0.035 |
| 14 | اقتصادي بې ثباتي | 0.024 | 2 | 0.048 |
| | د ټولو خارجي لاملونو(فرصتونو او ګواښونو) مجموعه | | | 2.539 |

## د چاپېريالي لاملونو( داخلي او بهرنی) پرتله

په دې مرحله کې د داخلي او بهرني لاملونو د بېلابېلو میتودونو پواسطه لکه د (SWOT) ماتریکس او د داخلي او بهرني ماتریکس په واسطه پرتله کېږي او د ادارې د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره مناسبه استراتیژي ټاکل کېږي.

مونږ د لغمان پوهنتون د ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره د داخلي او بهرني ماتریکس میتود څخه د غوره ستراتیژۍ د ټاکلو لپاره ګټه پورته کوو.

## د داخلي او بهرني(IE) تحلیل طریقه

په یو وخت کې د داخلي او بهرني لاملونو د تجزیې او تحلیل په موخه د داخلي او بهرني ماتریکس څخه ګټه پورته کېږي. دا ماتریکس د پوهنتون لپاره د ستراتیژي د ټاکلو په موخه کارول کېږي. د دغه ماتریکس د جوړښت لپاره باید چې د داخلي ماتریکس او بهرني ماتریکس نمرې په عمودي او افقي قطارونو کې ځای پر ځای شي تر څو د پوهنتون ځای په دې ماتریکس کې وټاکل شي او د پوهنتون لپاره مناسبه او غوره ستراتیژي وټاکل شي.

داخلي او بهرني ماتریکس په دوه شکلونو ارائیه کېږي، څلور خانه یې او نهه خانه یي چې مونږ دلته د نهه خانې شکل څخه کار اخلو، په نهه خانه شکل کې د داخلي او بهرني لاملونو د ماتریکس ارزونې نمرې په عمودي او افقي قطارونو کې په درې درجې لرونکي شکل کې ځای پرځای کېږي، چې لومړی: پیاوړي (3 څخه تر4) دوهمه: منځنې (2 څخه تر3) دریمه درجه : کمزوري (1څخه تر2) پورې.د دغه ماتریکس په اساس هغه ادارې، چې په 1، 2 او 4 خانه کې ځای پرځای شي نو اداره د جوړښت او پراختیا استراتیژي ټاکي، هغه ادارې چې په( 3، 5 او 7 )خانه کې ځای پرځای شي نو ادارې د موجوده حالت د ساتنې ستراتیژي غوره کوي او هغه ادارې چې د( 6،

8 او 9 )خانه کې ځای پرځای شي نو د پرېښودلو او کمولو ستراتيژۍ څخه کار اخېستل کېږي. په لاندیني شکل کې د لغمان پوهنتون وضعیت په پنځمه خانه کې موقعیت لري، چې همدې خانې ته میلان لري او دا حالت د پوهنتون لپاره هیله بښونکی دی. د دې موقعیت په اساس د ساتنې او د جوړښت استراتيژي د لغمان پوهنتون لپاره ټاکل کېږي، چې په دې ستراتيژي سره به د لغمان پوهنتون اداره پیاوړتیا او فرصتونو څخه په ګټه اخیستنې کمزوري ټکي له منځه یوسي او همدارنګه د ګواښونو څخه به ځان ساتي او د زیان کچه به یې راکموي.

| د چاپېريال تحلیل | مجموعه |
|---|---|
| د داخلي لاملونو ارزونهIFE | 2.715 |
| د بهرنیو لاملونو ارزونهEFE | 2.539 |

## د ستراتیژیک حالت ټاکل




د پورته تحلیلونو د لاسته راغلو نمرو څخه دا معلومیږي چې د لغمان پوهنتون په برید کونکې ستراتیژیک موقعیت کې ځای لري.

نو د لغمان پوهنتون د ستراتیژیک موقعیت تحلیل چې د (SWOT) تحلیل په واسطه شوی لاسته راوړنې یې په لاندې ډول دي.



## د SWOT تحلیل طریقه

د SWOT تحلیل چې د سوات ماتریس په نوم هم یادیږي د اوسني زماني بنسټونو لپاره د ستراتیژیک تحلیل یو مهمه وسیله ګڼل کیږي، یوازینۍ د تحلیل ګټوره طریقه ده چې مونږ هم د لغمان پوهنتون د ستراتیژیک پلان د تحلیل لپاره ترې کار اخیستی، په دې طریقه کې باید مونږ لاندې ټکو ته متوجه شو

1) خپل د قوت ټکي باید نور هم پیاوړي کړو
2) خپل کمزوره ټکي باید تر لاندې کچې ورسو
3) خپل فرصتونه باید وپېژنو او د ترلاسه کولو هڅه یې وکړو
4) او د بهرنیو ګواښونو اغیزه کمه کړو

هر پیاوړی علمي سازمان اړ دی تر څو د شته فرصتونو څخه په ګټه اخیستنې سره خپل موقف په علمي ډګر کې په اثبات ورسوي.

## د بهرنی چاپېریال تحلیل او ارزونه

د لغمان پوهنتون د بهرنی چاپېریال په ارزونه کې دوه مهم او اساسي موضوع ګانې د څېړنې لاندې دي

- د پوهنتون اوسني بهرني چاپېریال پېژندنه
- او د پوهنتون بهرني چاپېریال کې د تغیر وړاندوینه

نو په همدی اساس لغمان پوهنتون خپل تحلیل او ارزونه په لاندې ذکر شوو څلورو مرحلو کې بشپړ کړې ده

**اوله مرحله: د اسلامي امارت د لویو ستراتیژیو پر بنسټ د بهرني لاملونو پیدا کول**

په دې مرحله کې د لغمان پوهنتون ستراتیژیک پلان کمیټې د اسلامي امارت لویې ستراتیژیګانې او پالیسي ګانې مطالعه کړي او د لغمان پوهنتون د ستراتیژیک پلان پر تحقق یې د هغه تاثیرات مشخص کړل. په پیل کې پوهنتون (60 ) ګڼور بهرني لاملونه وپېژندل.

**دوهمه مرحله: د پوښتنپاڼو ترتیب او ویش**

په لومړي پړاو کې د پېژندل شویو لاملونو له څېړلو وروسته، یو شمیر ورته لاملونه له منځه یوړل شول او په پای کې د فرصتونو له جملې څخه (15) فکتورونه او د ګواښونو له جملې څخه (14) فکتورونه وټاکل شول،

نو په دې ډول به په ګواښونو کې د فرصتونو ټولې مجموعې اعظمي حد (1) وي، د وروستۍ نمرې مجموعه د ټولو بهرني لاملونو لپاره چې په پام کې نیول شوې (4) ده او وروستۍ پوښتنلیک د پورتنیو موضوعاتو پراساس ډیزاین او ویشل شوی. په دې پوښتنلیک کې، د هر یو بهرني فکتور اغېزمنتوب د درجه بندۍ په بڼه ټاکل شوی (1) خورا ټیټ اغېز (2) ټیټ اغېز (3) لوړ اغېز او (4) خورا لوړ اغېز.

**دریمه مرحله: د نظرونو تحلیل**

دغه پوښتنلیکونه د ستراتیژیک پلان جوړونې کمېټې له خوا د پوهنتون مدیره هیئت غړو او یو شمېر اداري کارکوونکو، د څانګو امرینو، استادانو او قراردادی استادانو او همدارنګه د سکتوري ریاستونو په مسؤلینو وویشل شول او په پای کې د ځواب ویلو غوښتنه ور څخه وشوه. په پایله کې د دوی نظرونه چی شمېر یې تقریبا (100) تنو ته رسیده د بهرني چاپیریال په تحلیل کې کارول شوي.

**څلورمه مرحله: د بهرني چاپېریال ارزونه او تحلیل**

د پیژندل شوي بهرني فکتورونو د لومړیتوب ورکولو لپاره دا اړینه ده چې د نوموړو فکتورونو نمره دهي او ارزونه وکړو. لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه، له هغو کسانو څخه چې پوښتنلیک پرې ویشل شوی و، غوښتل شوي چې د حقایقو او واقعیتونو پر بنسټ د ټاکلو شاخصونو سره مهم ټکي وټاکي، ترڅو په حقیقت کې د دې ستراتیژیک پلان د هر فکتور اغېزې وارزول شي. او په راتلونکي کې به اړین ګامونه پورته کړي.

د لغمان پوهنتون د فرصتونو او چاپیریالي ګواښونو د روښانه کولو لپاره، د (ضرب عامل) فورمول کارول شوی و او د دې درجه بندي فکتورونو څخه د هر یو اغېز محاسبه کولو لپاره، چې د پوښتنلیک پر بنسټ ټاکل کېږي، د ضرب او ضمیمه کې د ټولو خارجي فکتورونو لپاره وروستۍ نمرې، لږ تر لږه (1) او زیات نه زیات( 4 ) ټاکل شوي نمرې د ځوابونو ترلاسه کولو وروسته په جلا جدول کې ښودل شوي.

له همدې امله د بهرني چاپیریال تحلیل ښیي چې د بهرني فکتورونو (فرصتونو او ګواښونو) مجموعي نمرې د (2.539) سره مساوي دي، د دې په پام کې نیولو سره چې ترلاسه شوې نمرې مثبته شمېره ده، نو دا مې پایله ترلاسه کېږي چې په ټولیزه توګه د پوهنتون فرصتونه. د ستراتیژیک پلان د لاسته راوړلو لپاره د ګواښونو څخه ډېر اغېزمن دي. په حقیقت کې فرصتونه د دغه پوهنتون له ګواښونو سره ډېر نږدې دي، نو له ګواښونو څخه سترګې پټول به د پوهنتون د راتلونکي لپاره خطرناک وي.




## د داخلي چاپېريال تحليل او ارزونه

د لغمان پوهنتون داخلي چاپېريال ارزونه په لاندې څلورو پړاونو کې ترسره شوې.

**اوله مرحله: د اغېزمنو داخلي لاملونو د شرايطو پر اساس پيدا کول**

په دې مرحله کې د پوهنتون له غړو او اداري کارکوونکو سره د کتنې او مشورې پر اساس د داخلي چاپېريال لاملونه مشخص شول، چې شاوخوا (40) داخلي لاملونه يې د قوت او ضعف په کې شامل وو، چې له دې جملې څخه (28) د قوت او ضعف لاملونه چې د موثريت له مخې د تطبيق په برخه کې لومړيتوب درلود په ستراتيژيک پلان کې شامل کړل.

**دوهمه مرحله: د پوښتنپاڼو ډيزاين**

په لومړۍ مرحله کې د پېژندل شويو فکتورونو له څېړلو وروسته، يو شمير ورته لاملونه له منځه يوړل شول او په پای کې د پياوړتيا څخه (15) فکتورونه او د ضعيف لاملونو څخه (15) فکتورونه وټاکل شول چې د اهميت او لومړيتوب په توګه پېژندل شوي د ستراتيژيک پلان لپاره غوره شوي ترڅو د قوت او کمزوريو مجموعه چې اعظمي حد يې (1) وي. د ټولو داخلي فکتورونو لپاره د وروستي نمرې چې مجموعه يې (4) ده،

پـر بنسـټ يې د ډيـزاين وروسـتی پوښـتنپاڼه او د رتبـو پـه بڼـه د هـر داخلي فکتـور اغېـزو درجې چې (1) خـورا ټيـټ اغېزه (2) ټيټ اغېزه ( 3) لوړ اغېزه او (4) خورا لوړ اغېزه په درجه پيژندل شوې.

**دريمه مرحله: د نظرونو تحليل**

دغـه پوښـتنپاڼی د سـتراتيژيک پـلان جـوړونې کميټې لـه خـوا د پوهنتـون مـديره هيئـت د غـړو او يـو شـمير اداري کـارکوونکو، د څـانگو امرينـو، اسـتادانو او قـراردادي اسـتادانو او همدارنگـه د سـکتوري رياسـتونو پـه مسـؤلينو وويشـل شـوې او پـه پـای کې د ځـواب ويلـو غوښـتنه ور څخـه وشـوه. پـه پايلـه کې د دوی نظرونـه چی شـمېر يـې تقريبا (100) تنو ته رسيده د داخلي چاپيريال په تحليل کې کارول شوي.

**څلورمه مرحله: د داخلي چاپيريال ارزونه او تحليل**

لکـه څرنگـه چې د بهرنيـو فکتورونـو پـه برخـه کې يادونـه وشـوه، پـه هغـو کسـانو بانـدې چې پوښـتنپاڼی ويشـل شـوې وې غوښـتل شـوي چې د حقـايقو او واقعيتونـو پـر بنسـټ د ټـاکلو او ارزولـو شاخصـونو سـره مهـم ټکـي وټـاکي ترڅـو د هـر فکتـور اغېزمنتـوب مشـخص کـړي او د سـتراتيژيک ريښـتينی واقعيـت مشـخص کـړي. پـه راتلـونکي کې د دې پـه اړه د اړينـو تصـاميمو نيولـو لپـاره د چاپيريـال د کمزوريـو پيژنـدلو پـه پـار فرمـول (د رتبې ضـرب لامـل) کـارول شـوی و،کمـزورې خـواوې بايـد پـه مسـاوي ډول کې وپېژنـدل شـي، بيـا بايـد د هـر يـو لپـاره ضـميمه وټاکـل شـي. د داخلي چاپيريـال فکتورونـه، او د هـر يـو فکتـور اغېـزې محاسـبه کولـو لپـاره، درجـه بنـدی د پوښـتنپاڼو پـر بنسـټ د ضـرب کولـو او د ټولـو فکتورونـو لپـاره وروسـتی نمـرې ټاکـل شـوي. داخلـي ضـريبونه لږترلـږه ( 1) او اعظمي ( 4) رامينځتـه شـوي. پـه جـدول کې د وړانـدې شـويو نظرونـو اوسـط اخيسـتلو وروسـته نمرې ښـودل شـوي، نـو د داخلي چاپيريـال تحليـل هـم ښـيي چې د داخلـي فکتورونـو (قـوت او ضـعف) مجموعـه نمـرې د (2.715) سـره مسـاوي دی چې ترلاسـه شـوي نمـرې، يـوه مثبتـه شـمېره ده، نـو مـوږ دې نتيجې تـه رسـيږو چې د لغمان پوهنتون پياوړتيا په راتلونکي کې مثبت لوري ته تللای شي.




### د وضیعت تحلیل

لکه څرنګه چې په لاندې ګراف کې لیدل کېږی، د (SWOT) تحلیل پر بنسټ د لغمان پوهنتون وضیعت په دې ډول دی.




د موقعیت تعینول د دې لپاره ترسره کېږي چې د سازمان اصلي حرکت تنظیم کړي. د دې هدف لپاره، د داخلي او بهرنیو لاملونو ارزونې میټرکس د ستراتیژیک پلان د پلي کولو په اړه د غالبو ستراتیژیو ټاکلو لپاره کارول کېږي. نو له همدې امله لومړی دا میټریکس تشریح کېږي او بیا د لغمان پوهنتون موقعیت ټاکل کېږي چې د ارزونې میټرکس په کومه ساحه کې دی.

## د داخلي او بهرنی لاملونو ارزوني میټریکس

د داخلي او بهرني لاملونو ارزوني میټرکس څلور برخې لري، چې لاندې تشریح شوې.

اوله برخه: د سازماني ځواک په کارولو سره د فرصتونو اعظمي کول (1 ساحه) ( SO) یا برید کونکي ستراتیژیاني.

دویمه برخه: د ګواښونو د مخنیوي لپاره د سازمان د ځواک کارول (2 ساحه) د ( ST) ستراتیژیو یو ډول دی.

دریمه برخه: د سازمان د کمزورتیاوو د جبران کولو لپاره د فرصتونو څخه ګټه پورته کړئ (3 ساحه) د (WO) ستراتیژی په بدلولو سره.

څلورمه برخه: (WT) یا دفاعي ستراتیژیو ته د ګواښونو او زیانونو (4 ساحه) له امله رامینځته شوي زیانونه کم کړئ.




لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه په پورته څلور اړخه تحلیل کې هر بنسټ خپل ځان ګوري چې زه په کوم موقعیت کې یم؟

